د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه مجله
مجله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# د لوګر پوهنتون محصلانو د تحصیلي افت عواملو څېړل

**پوهندوی محمد طاهر خپلواک**

پېداګوژي څانګه، ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

ایمیل: tahirkhpalwak@gmail.com

**چکیده**

یاده څېړنه د لوګر پوهنتون محصلانو د تحصیلي افت عواملو او د هغوی د اغېزکچې پېژندلو په موخه ترسره شوې. د څېړنې جمعیت ۱۳۰۰ تنه محصلان دي، چې ۳۱۳ تنه د نمونې په توګه انتخاب شوي. معلومات د پوښتنپاڼې په‌واسطه راټول او د SPSS26 پروګرام په واسطه تحلیل شوي دي. د څېړنې موندنې ښيي، چې د محصلانو پر تحصیلي افت تر ټولو ډېر ښوونیز چاپېریال او د اوسېدو ځای او تر ټولو لږ درسي محتوا اغېز لري. تر ټولو لوړ تحصیلي افت په څلورمو او تر ټولو ټیټ په درېیمو ټولګیو کې دی. په کرهنه پوهنځي کې د محصلانو تحصیلي افت په لوړه او لومړۍ کچه او په جیولوجي او کانونو پوهنځي کې په ټیټه کچه دی. نالوستي والدین تر لوستو والدینو ډېر د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري. سپارښتنه کېږ ی چې پوهنتون باید د ښوونیز چاپېریال او د محصلانو د اوسېدو ځای ښه‌کولوکې لازمې هڅې وکړي.

**کلیدي کلمې:** پر تحصیلي افت مؤثر عوامل؛ تحصیلي افت؛ زده کوونکی؛ محصلان او لوګر پوهنتون

# Investigating the Factors Affecting Academic Decline of Logar University Students

**Muhammad Tahir Khpalwak**

Department of Pedagogy, Faculty of Psychology and Educational Sciences, Kabul University, Afghanistan

Email: tahirkhpalwak@gmail.com

**Abstract**

This study aimed to identify the factors contributing to academic decline among Logar University students and assess the extent of their influence. The research population consisted of 1,300 students, of whom 313 were selected as the sample. Data were collected using a questionnaire and analyzed using SPSS version 26. The findings indicate that the academic environment and students' living conditions have the greatest impact on academic decline, while academic content has the least influence. The highest level of academic decline was observed among fourth-year students and the lowest among third-year students. At the faculty level, the Faculty of Agriculture showed the highest and first level of academic decline, whereas the Faculty of Geology and Mines showed the lowest. Students with illiterate parents were more affected by academic decline than those with literate parents. It is recommended that the university undertake the necessary efforts to improve the academic environment and students' living conditions.

**Keywords:** Academic decline; Factors affecting academic performance; Students, Logar University

ارجاع: خپلواک، م. ط. (۱۴۰٤). د لوګر پوهنتون محصلانو د تحصیلي افت عواملو څېړل د کابل پوهنتون د ټولیزو علومو علمي – څېړنیز ژورنال. ۸(۳). ۱-۱۹. https://doi.org/10.62810/jss.v8i3.349

**سریزه**

الحمد لله رب العالمین ، والصلاة والسلام علی أشرف الأنبیاء والمرسلین ، نبینا و رسولنا محمد و علی آله وصحبه و من تبعهم بإحسان إلی یوم الدین و بعد:

د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو په تېره بیا د درېیمې نړۍ هېوادونو کې د تحصیلي نظام یو له سترو بحرانونو څخه د " تحصیلي افت یا تحصیلی لوېدنې" مسئله ده او نن سبا د پوهنې له مهمو مسایلو څخه ګڼل کېږي. له تحصیلي افت څخه موخه د محصلانو تحصیلي کړنې د قناعت وړ کچې څخه نامطلوبې کچې ته د را ټیټېدلو په معنی دي. دغه تعریف ته په کتو د محصلانو د تېرو تحصیلي کړنو کچه له اوسنیو کړنو سره پرتله او اندازه کول د تحصیلي افت غوره ځانګړنه ده. ډېری ښوونکو، ټولنپوهانو او ارواپوهانو مسئلې ته د خپل نظر له مخې کتلي او مختلف تعریفونه یې ورکړي د. د ټولو ګډه ځانګړنه د رسمي زده کړو په مخته وړلو کې د بریالیتوب نشتوالی او ناکامي ده. د تحصیلي افت معنی دا ده، چې زده‌کوونکي د ښوونیزو اسانتیاوو د کارولو فرصت وومي؛ خو د ځینو دلایلو له امله دوی له زده‌کړې څخه بې‌برخې کېږي، له وخته مخکې زده‌کړې پرېږدي، یا والدین د دوی د زده کړو له دوام څخه مخنیوی کوي(خپلواک او نجیب، ۱۴۰۳).

د افت کلمه د عمید په فرهنګ کې د کمښت او لوېدنې په معنی راغلې او د مُعین په فرهنګ کې د افت کلمه د ټیټوالي او کموالي په معنی ذکر شوې ده. په معمولي ډول د تحصیلي افت بیانولو لپاره د تحصیلي افت یا تحصیلي ټیټوالي او لوېدنې کلمه کارول کېږي. د امین‌فر په اند په تحصیلي برخه کې د افت اصطلاح کارول د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخیستل شوې. هغوی زده کړه له یو داسې صنعت سره پرتله کوي، چې پانګه او خام مواد، چې باید په محصول بدل شي، په محصول نه بدلېږي، مطلوبه او متوقع پایله لاسته نه راوړي. افت مختلف ډولونه لري، چې په ټوله کې په دوه ډوله دی: کمي افت او کیفي افت.

کمي افت: د زده کوونکو هغه سلنه ده، چې د ناکامۍ او د زده‌کړې پرېښودو له امله خپله تحصیلي دوره په بریالیتوب سره نه‌شي بشپړولی.

کیفي افت: ټاکل شویو موخو ته په رسېدو او یا هم د دغو موخو په لاسته راوړلو کې ناکامي ده. پر همدې بنسټ، د یوې تحصیلي دورې د فارغانو د پوهې او مهارتونو ترمنځ توپیر او د دې دورې لپاره د ټاکل شویو موخو د کیفیت ټیټوالی او کمښت ښیي، چې تحصیلي افت د یو هېواد په تحصیلي سېسټم کې له وخته مخکې د زده‌کړو پرېښودل او یا د لومړنیو زده‌کړو بیا ځلي تکرار له تحصیلي افت څخه عبارت دی. په تحصیلي افت کې د تحصیلي ناکامۍ مختلف اړخونه شامل دي، لکه په پوهنتون کې په

پرله پسې ډول غیر حاضري، د زده‌کړو په مکرر ډول پرېښودل، د لومړنیو زده‌کړو بیاځلي تکرار ، د زده کړې ټیټ کیفیت او د معلوماتو پر ځای د محفوظاتو ترلاسه کول(تمنایی‌فر او همکاران، ۱۳۸٦).

تحصیلي افت په ډېرو پوهنتونونو کې لیدل کېږي او یاده ستونزه د ډېرو اقتصادي، ټولنیزو، فرهنگي، اروایي او حتی بشري سرچینو د له منځه تللو لامل کېږي. هغه تحصیلي نظامونه چې د تحصیلي افت له ستونزې سره مخ دي، ښوونیزې موخې نه‌شي ترلاسه کولی. محصلان هم د تحصیلي کړنو په پرمختګ کې ناهیلي، مایوسه او پر خپلو استعدادونو او وړتیاوو شک کوي. ډېری محصلان زده‌کړې پرېږدي، تأجیل اخلي او ځینې محصلان په تحصیلي کړنو او آزموینو کې مطلوبې پایلې نه ترلاسه کوي؛ حتی ځینې دویم او درېیم چانس ته ځي. استادان هم له یادې ستونزې ځورېږي. د تجربو او معلوماتو له مخې په لوګر پوهنتون کې د محصلانو تحصیلي کړنې د قناعت وړ نه دي. همدارنګه یو شمېر محصلان په بېلابېلو تخصصي، مسلکي او پوهنتون شموله مضامینو کې ټاکل شوي فعالیتونه نه ترسره کوي؛ ښې او د قناعت وړ نمرې نه اخلي، دویم او درېیم چانس ته ځي، بیاځلي سمېستر تکراروي او حتی ځینې یې تحصیل پرېږدي، چې دا پدیده په لوګر پوهنتون کې ډېره لویه ستونزه ده. د دې ستونزې دوام د خلکو او ټولنې لویه کچه مالي سرچینې او استعدادونه له منځه وړي او ناوړه اغېز کوي(خپلواک او نجیب، ۱۴۰۳).

د تحصیلي لوېدنې د لاملونو په اړه ډېرې څېړنې ترسره شوې، چې د ځینو موندنې په لاندې ډول دي:

خپلواک او نجیب په(۱۴۰۱) کال افغانستان کې (لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې د اغېزناکو لاملونو څېړل) تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې ده. د څېړنې جمعیت لوګر پوهنتون ټول محصلان دي، چې شمېر یې (۸۳۰) تنه دی او (۱٦۳) تنه د نمونې په توګه انتخاب شوي، چې (۱۲۹)تنه نارینه او(۳۴) تنه ښځینه دي. د دې څېړنې پایلې ښیي، چې پر تحصیلي افت مؤثر تر ټولو لوی عامل خپله محصلان او تر ټولو کوچنی عامل د پوهنځیو رهبري ده. په ترتیب انفرادي عوامل، کورني عوامل، تحصیلي رشته، د تدریس مېتود، اقتصادي عوامل، د ښوونځیو ضعف، ټولنیز عوامل، درسي محتوا، د ارزونې مېتود، سرچینې او اسانتیاوې، سیاسي عوامل او د پوهنځیو رهبري د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري. د جنسیت له نظره د هلکانو د فردي او ټولنیزو عواملو، تحصیلي رشتې او درسي محتوا اوسطونه له نجونو څخه ډېر او معنی لرونکي او د نجونو سیاسي عواملو اوسط له هلکانو څخه ډېر او معنی لرونکي ترلاسه شوي. په ښوونه او روزنه پوهنځي کې د محصلانو تحصیلي لوېدنه لوړه، په جیولوجي او کانونو پوهنځي کې متوسطه او په کرنې پوهنځي کې ټیټه ښوودل شوې ده.

د اولادونو پر تحصیلي وضعیت د ټلوېزیون د اغېزو په اړه د دوو څېړونکو هر یوه (فیلیپ نیومن او باربارانیومن) د (۲۳)څېړنو پایلو په تحلیل سره موندلې: هغه زده‌کوونکي چې په اونۍ کې له (۱۰) تر (۱۵) ساعته پورې ټلوېزیون گوري، تحصیلي پرمختګ یې په لوړ حد کې دی؛ د هغو زده‌کوونکو په پرتله چې له (۱۰) ساعتو لږ ټلوېزیون گوري او وروسته د کتلو په زیاتوالي سره له (۲۰) تر (۴۰) ساعته په اونۍ کې په ښکاره توگه تحصیلي پرمختګ کمېږي.

د یونسکو (۱۳٦۹) د مشاورانو ډلې د راپور پر بنسټ په هندوستان کې هم زده‌کوونکي ډېرې د لباس کمبود، امکاناتو او فیس نشتون له امله زده‌کړې پرېږدي. د خپرو شویو ارقامو له مخې په نجونو او ښځو کې (۳۰) سلنه د زده‌کړو پرېښول د دې له امله دي، چې د هغوی والدین له تحصیل سره علاقه نه‌لري.

مجیدي (۱۳۷۵) د ایران هېواد (د میانه ولسوالۍ متوسطه دورې زده‌کوونکو تحصیلي افت او بریالیتوب او د ځینو ټولنیزو ـ اقتصادي ځانګړنو ترمنځ رابطه) تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې ده. د دې څېړنې د نفوسو ټولنه په (۱۳۷۴- ۱۳۷۵) تحصیلي کلونو کې د میانه ولسوالۍ متوسطه دورې ټول زده‌کوونکي دي. ترلاسه شویو پایلو ښودلې، چې د پلار او مور سواد، کورنۍ در امد، د پلار شغل، د کورنۍ د غړو شمېر او اولادونو د تحصیلي افت ترمنځ رابطه شتون لري؛ خو د والدینو د اوسېدو ځای، د مور اشتغال، د کورنۍ څووم زوی توب او د اولادونو تحصیلي افت ترمنځ معنی لرونکې رابطه شتون نه‌لري (ص ٦۸).

پارسي او همکارانو (۱۳۹۷) د مازندران د طبي علومو پوهنتون د مختلفو مقاطعو پر محصلانو د تحصیلي افت کچې او اغېزناکو لاملونو تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې او لاندې پایلې یې ترلاسه کړې: تر ټولو لوړ تحصیلي افت د لېسانس او تر ټولو ټیټ تحصیلي افت د ماسټرۍ او دوکتورا دورو محصلانو کې دی. له تحصیلي افت سره د جنسیت او عمر تر منځ د پام وړ توپیر ښودل شوی. په منځني ډول تحصیلي افت په ټولو کچو کې د نجونو په پرتله په هلکانو کې لوړ دی (۰/۰۵ > p). پر تحصیلي افت د بېلابېلو لاملونو اغېز لکه د شهادت‌نامې ترلاسه کولو او پوهنتون ته د داخلېدو ترمنځ وقفه، واده او تحصیلي رشتې د پام وړ وې؛ په داسې حال کې چې د والدینو د زده‌کړو کچه، ښوونېزې اسانتیاوې، د ماشومانو شمېر، د ځانګړې ناروغۍ مخینه، دنده او اقتصادي شرایطو متغییرونو ترمنځ د پام وړ رابطه نه ده ترلاسه شوې.

نعیمي (۱۳۹٦) په خپلو څېړنو کې ښوودلې، چې د مجازي ټولنیزو شبکو کارولو او د شخصي ارزښت د احساس تر منځ منفي او د پام وړ اړیکه شتون لري او د مجازي ټولنیزو شبکو د کارولو او تحصیلي افت تر منځ منفي اړیکه شتون لري (۰۵ / ۰ > p). همدارنګه د شخصي ارزښت احساس او د مجازی ټولنیزو شبکو کارولو مقدار د دې توان درلود، چې په زده‌کوونکو کې د تحصیلي افت وړاندوینه وکړي.

ابراهیم زاده او همکارانو (۱۳۹۴) د لارستان د طبي علومو په پوهنتون کې د تحصیلي لوېدنې او په هغې پورې اړوند لاملونو تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې. د څېړنې موندنې ښیي، چې یو شمېر لاملونه لکه پوهنځی، د زده‌کړو ځای، د زده‌کړې کچه، د زده کړې د پخوانیو او اوسنیو کچو ترمنځ واټن، جنسیت او د اوسیدو ځای د تحصیلي افت سره تړاو لري.

غیبي او همکاران په (۱۳۸۹) کال کې په خپلو څېړنو کې دې پایلې ته رسېدلي، چې بنسټیز لاملونه لکه ټولګي ته نه حاضرېدل، د شهادت‌نامې ترلاسه کولو او پوهنتون ته د داخلیدو تر منځ اوږد واټن(د ښوونځي پریښودل او پوهنتون ته داخلیدل) له تحصیلي افت سره معنا لرونکې اړیکه لري.

بندبني او همکارانو په (۱۳۹۵) کال کې د ګیلان ښار د طبي علومو پوهنتون د محصلانو له نظره د تحصیلي افت د مطالعې تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې، په دې اړه یې ځینې لاملونه څېړلي او دې پایلې ته رسېدلي، چې د تحصیلي افت اړوند فردي او ټولنیز لاملونه پکې شامل دي؛ لکه: د محصلانو جنسیت ، تحصیلي مقطع، د مور د زده‌کړو کچه، د پلار دنده، د محصلانو د کار وضعیت او د تحصیلي رشتې غوره کولو څرنګوالی د دوو ډلو محصلانو ترمنځ( هغه محصلان چې تحصیلي افت لري او هغه محصلان چې تحصیلي افت نه لري) په تحصیلي افت کې د پام وړ توپیر ښوودلی(۰۵/ ۰ >p ).

مقیمي او همکارانو په (۱۳۸۹) کال په یوه څېړنه کې چې د ثانوي دورې ښوونځیو د نارینه زده‌کوونکو ترمنځ د ښوونېزو لاملونو او تحصیلي افت ترمنځ رابطه تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې، پایلو یې ښوودلې چې د هڅونې، مجازاتو، فردي توپیرونو ته لږ توجه او نامناسب تحصیلي چاپیریال د تحصیلي افت سره د پام وړ اړیکه شتون لري.

د مقیمی او همکارنو (۱۳۸۹) څېړنې پایلو ښوودلې، چې فردي لاملونه (هوښ، انګیزه او ځان ته درناوی)، ښوونیز لاملونه (د استاد او محصل اړیکې، مناسب تحصیلي شرایط او اسانتیاوې، هڅونه او مجازات، د زده‌کوونکو انفرادي توپیرونو ته لږ پاملرنه) او کورنۍ لاملونه (د کورنۍ عاطفي شرایط، ټولنیز او اقتصادي شرایط، په کورنۍ کې د زده کړې او سواد کچه، د کورنۍ د غړو شمېر، د زده کونکو ګمارنه، د والدینو او ښوونکو ترمنځ اړیکه، د ډله‌ییزو اړیکو وسایل، حکومتداري او مادي ارزښتونه) هغه عوامل دي، چې د زده‌کوونکو د تحصیلي افت سره اړیکه لري.

کمالي او رضایي (۱۳۹۸) د بندر عباس طب پوهنځي د محصلانو تحصیلي افت د ټولنې د روغتیا پر راتلونکي اغېزمن لامل تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې او پایلې یې ښوودلې، چې د اوسېدو ځای او وضعیت، د مور او پلار د زده‌کړو او تحصیلي افت ترمنځ اړیکه شتون لري($P \leq Value$ ۰/۰۰۵).

محمدي او همکارانو (۱۳۹۹) د سمنان د طبي علومو پوهنتون د روغتیایي رشتې محصلانو د تحصیلي افت په اړه څېړنه ترسره کړې او پایلي یې ښیي، چې تحصیلي افت له تحصیلي سمېستر او تحصیلي کچې، د استوګنې ځای څخه تر پوهنتون پوري واټن، دتحصیلي رشتي غوره کول، په ټولګیو کې فزیکي شتون او د محصلانو دقت او تمرکز ترمنځ د پام وړ اړیکه لیدل شوې.

راستیان او همکارانو(۱۳۹۳) یې د تحصیلي افت سره د مقابلې ستراتیژۍ تر سرلیك لاندې کتابتوني څېړنه ترسره کړې او د څېړنې پایلې ښیي، چې تحصیلي افت بېلابېل لاملونه لري، چې په څلورو کټګوریو وېشل کېدی شي: انفرادي لاملونه (د هڅونې نشتوالی، په ځان د باور کموالی، د پلان نشتوالی)، کورني لاملونه (د والدینو ترمنځ غیر معمولي اړیکه، مادي او کلتوري فقر)، ټولنیز لاملونه ( روږدیتوب، د مصرف تجمل ګرایي خپرېدل) او ښوونېز لاملونه (د ښوونکي د تدریس مېتود، د درسي کتاب منځپانګې او د ارزونې مېتود).

فتي او همکارانو (۱۳۹۲) د طب محصلانو د تحصیلي افت د لاملونو سېستماتیکه بیاکتنه تر سرلیك لاندې څېړنه ترسره کړې او وایي، چې د منځپانګې تحلیل، جنسیت، په لیلیه کې ژوند، په کار ګمارل، واده، عمر، د منلو(سهمیې) کچه له ښوونځي څخه د فراغت او پوهنتون ته د داخلېدو تر منځ اوږد واټن د طب محصلانو پر تحصیلي افت اغېزناك لاملونه ګڼل کېږي.

پردانجاني او همکارانو (۱۳۹۰) د ګلستان د طبي علومو پوهنتون د پارامیډیکل او روغتیا پوهنځیو په لیلیه کې د محصلانو د تحصیلي افت فریکونسي او اغېزکوونکي لاملونه څېړلي او دې پایلې ته رسېدلی، چې تحصیلي افت، د مور او پلار د زده‌کړو کچې، اقتصادي وضعیت او د محصلانو د سګرټ څکولو تر منځ د پام وړ اړیکه شتون لري. همدارنګه د هغو لاملونو په منځ کې چې پر تحصیلي پرمختګ په درسي ټولګي کې دقت او تمرکز او په کانکور آزموینه کې د منل کېدو سیمې له تحصیلي افت سره د پام وړ اړیکه موندل شوې.

مقدم او کمالیفر(۱۳۹۱) د کېمیا په درس کې د آمول ښار د نارینه زده‌کوونکو د تحصیلي افت د مهمو لاملونو پېژندلو په اړه څېړنه ترسره کړې او دې پایلي ته رسېدلي، چې اقتصادي وضعیت، د والدینو د سواد کچه، د ښوونکي د تدریس مېتود، د ازموینې پوښتنې، تحصیلي مخینه او په راتلونکې کې د کار اړتیاوې د تحصیلي افت د مهمو لاملونو په توګه پېژندل شوې دي.

سیمائي (۱۳۹۴) د اروایي روغتیا او لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکو د تحصیلي افت ترمنځ د اړیکو په اړه څېړنه ترسره کړې او پایلې یې په (۱۳۹۴) کال کې د ترکیې په استانبول ښار کې د ساینس او

ټيکنالوژۍ په اړه دويم نړيوال کنفرانس کې وړاندې کړې دي. پايلې ښيي، چې د تحصيلي افت او ارواييي روغتيا ترمنځ منفي او د پام وړ اړيکه شتون لري.

افشاري (۱۳۹۵) د تحصيلي افت لاملونه او د زده کوونکو په تحصيلي پرمختګ کې د والدينو د سواد کچې اغېزو په اړه څېړنه ترسره کړې او دې پايلې ته رسېدلی، چې د والدينو د زده‌کړو کچه د ماشومانو په تحصيلي پرمختګ کې مستقيم رول لري.

شکرکن او همکارانو (۱۳۹۷) د ايران په اهواز ښار کې د هلکانو په لېسو کې د تحصيلي افت د مهمو لاملونو په اړه څېړنه ترسره کړې او مهم لاملونه يې په لاندې ډول په ګوته کړي: د تحصيلي پلان جوړونې اړوند مسائل، د کورنۍ او روغتيا ستونزې، چاپيريالي ستونزې، د ټولنيز چلند مسائل، په ودې پورې اړوند مسائل، د ازموينې، درسي کتابونو، ښوونيز او عمومي مسئلې او کورني اختلافات.

په پوهنتون کې د محصلانو تحصيلي دوره له اقتصادي، ټولنيز او فردي اړخونو خورا مهمه ده. تحصيلي افت د دولت لپاره مالي بوج جوړوي. د کم‌کيفيته کادرونو روزلو او د خدمتونو د ټيټې کچې سبب کېږي او محصل له اقتصادي ستونزو، کم اعتمادۍ او ټولنيزو ستونزو سره مخ کوي. دغه پديده نه يوازې مالي سرچينې ضايع کوي، بلکې د محصل د نا اميدۍ، د کار بازار ته د ناوخته ننوتلو او د منفي ټولنيزو کړنو لکه د زده‌کړې پرېښودو، خپګان او حتی ځان‌وژنې خطر زياتوي. بنسټيزه پايله دا ده، چې تحصيلي افت د محصل، کورنۍ، ټولنې او هېواد لپاره پراخ زيانونه لري.

محصلان د تحصيلي نظام يوه پراخه برخه جوړوي او د هغوی پرمختګ د ټولنې د راتلونکې لپاره حياتي دی. له اقتصادي پلوه د محصلانو زده‌کړه او روزنه د پانګونې يوه مهمه بڼه ګڼل کېږي. له دې امله اړينه ده، چې د دې سترې پانګونې لپاره سمې تګلارې جوړې شي، ترڅو د هغې ضايعات کم شي. هر هغه څه چې د دې پانګونې د ضايع کېدو لامل کېږي او مطلوبې پايلې نه ورکوي، د «تحصيلي افت» په توګه يادېږي؛ دا ځکه چې هر کال په مېلياردونو افغانۍ د هېواد بوديجه مصرفېږي او د ټولنې بالقوه انساني ځواکونه له تحصيلي نظام څخه بهر پاتې کېږي. په دې توګه د ټولنې تر ټولوستره پانګه يعنې انساني ځواکونه، بې ګټې او بې‌ثمر پاتې کيږي. د تحصيلي افت د لاملونو په اړه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې ډېرې څېړنې تر سره شوي دي او د ګوتو په شمېر څېړنې په افغانستان کې ترسره شوې دي؛ خو دا ډول ستونزې له يوې ټولنې څخه بلې ته او له يوه کلتور څخه بل ته توپير لري. نو پکار ده، چې ياده موضوع په هره ټولنه او خپل ځای کې وڅېړل شي.

د دې سترې او پېچلې ستونزې ریښې له کومه ځایه دي؟ ایا دا د سازمان داخلي ستونزه ده؛ یعنې له تحصیلي نظام څخه سرچینه اخلي؟ ایا د تحصیلي نظام داخلي اصول او پروګرامونه د دې وړتیا نه لري، چې محصلان د ټولنې د اړتیاوو پر بنسټ وروزي؟ یا دا له سازمان بهر یعنې بهرنۍ ستونزه ده، چې د ټولنې د علمي او فکري سطحې د ټیټوالي د زده‌کړې د بنسټیز کېدو د نشتوالي یا د اقتصادي او ټولنیز طبقاتي وضعیت د ګډوډۍ له امله رامنځته شوې ده؟ یا دا ستونزه د دې دواړو عواملو ترکیب دی؟

موږ ګورو چې تحصیلي ستونزې په ځانګړې توګه د «تحصیلي افت» موضوع دومره پېچلې شوې ده، چې هر کال په نړیواله کچه لسګونه کتابونه، مجلې او مقالې په دې اړه چاپ او خپرېږي. سربېره پر دې بېلابېل سیمینارونه جوړېږي، چې ډېری وخت ټولنپوهان او ارواپوهان د دې ستونزې د څېړلو، تحلیلولو او د حل لارو وړاندیز کولو لپاره وربلل کېږي. له همدې امله څېړونکو د دې موضوع اهمیت ته په کتو سره د دې اړتیا احساس کړي، چې د دې ستونزې اصلي لاملونه وپلټل شي او اولویت بندي شي. د څېړنې پایلې به د تحصیلي پالیسۍ جوړوونکو، استادانو، کورنیو او یاد پوهنتون لپاره مهمې او ګټورې وي چې د تحصیلي پروګرامونو د اصلاح او پیاوړتیا لپاره کار وکړي او د تحصیلي افت د کمولو لپاره پخپله برخه کې مؤثر ګامونه پورته کړي.

یادې ستونزې ته په کتو د(١٤٠٣) کال په قوس میاشت کې په لوګر پوهنتون کې د محصلانو له نظره د تحصیلي افت د لاملونو د پېژندلو په موخه یاده څېړنه ترسره شوه؛ تر څو د تحصیلي افت لاملونو په پېژندلو سره د تحصیلي افت له امله رامنځته شوي زیانونه راکم او د محصلانو فعالیتونه مطلوبې سطحې ته لوړ شي.

دا یوه عمومي او لویه موضوع ده، چې د هغې عواملو د موندلو لپاره د څېړونکو یوې لویې ډلې او څېړنې ته اړتیا شته. دا کار د ډېر وخت او لوړو لګښتونو ترڅنګ د ګڼو ستونزو سره مخ کېدلای شي. په بېلابېلو اړخونو کې ستونزې، د شرایطو، جغرافیوي ځایونو، ټولنیزو او کلتوري وضعیتونو توپیرونه د دې لامل کېږي، چې د ټول هېواد لپاره مشترکې او ثابتې پایلې ترلاسه کول ناشوني شي؛ که څه هم ځینې ګډ عوامل شته چې په ډېرو ځایونو کې یو ډول لیدل کېږي. د همدې لپاره هڅه شوې چې د څېړنې موضوع له جغرافیوي او د عواملو د ارزونې له اړخه محدوده او روښانه شي. نو له همدې کبله یوازې د لوګر پوهنتون محصلان انتخاب او موضوع محدوده شوې ده.

د دې څېړنې موخې عبارت دي له:

١. د هغو لاملونو د لومړیتوبونو معلومول چې د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

۲. د تحصیلي کال له مخې د هغو لاملونو پرتله، چې د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

۳. د تحصیلي رشتې له مخې د هغو لاملونو پرتله چې د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

۴. د والدینو سواد له مخې د هغو لاملونو پرتله چې لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

همدا راز د څېړنې پوښتنې دا دي:

۱. کوم لاملونه د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت ډېر اغېز لري؟

۲. د محصلانو پر تحصیلي افت اغېزناک لاملونه د تحصیلي کال پر بنسټ توپیر لرونکي دي؟

۳. د محصلانو پر تحصیلي افت اغېزناک لاملونه د تحصیلي رشتې پر بنسټ توپیر لرونکي دي؟

۴. د والدینو سواد پر بنسټ د لوګر پوهنتون د محصلانو تحصیلي افت یو له بل سره توپیر لري؟

## د څېړنې کړنلاره

د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزناکو عواملو څېړل د (۱۳۹۹-۱۴۰۳) تر سرلیک لاندې څېړنه، توصیفی ـ تحلیلي څېړنه ده او د معلوماتو راټولولو له نظره یوه کمي څېړنه ده؛ د ځای له نظره یوه ساحوي څېړنه او د موخې له نظره یوه کارېدونکې څېړنه ده. د څېړنې د نفوسو ټولنه یا جمعیت د لوګر پوهنتون د څلورو پوهنځیو (ښوونې او روزنې، کرنې، جیولوجي او کانونو او شرعیاتو) پوهنځیو محصلان دي، چې ټولټال شمېر یې (۱۳۰۰) تنه دی. په دې څېړنه کې د نمونې حجم ټاکلو لپاره له کوکران فورمول څخه ګټه اخیستل شوې ده. له ټولټال(۱۳۰۰) تنو محصلانو څخه (۳۱۳) تنه د نمونې په توګه ټاکل شوي دي. د نمونه اخیستنې له طبقه‌یي ډول استفاده شوې او پوښتنپاڼې په تصادفي ډول وېشل شوې. د معلوماتو راټولولو لپاره، د (۷۷) سواله پوښتنپاڼې څخه په فزیکي او آنلاین ډول استفاده شوې او د پوښتنپاڼې وېش په ساده تصادفي ډول ترسره شوی دی. پوښتنپاڼه ټولټال (۷۷) پوښتنې او(۱۳) مؤلفې یا شاخصونه لري، چې عبارت دي له: په زده‌کوونکو پورې اړوند فردي عوامل، په استادانو پورې اړوند فردي عوامل، د استادانو د تدریس مېتود اړوند عوامل، د استادانو د ارزونې مېتود عوامل، اقتصادي عوامل، کورني عوامل، ټولنیز ـ فرهنګي عوامل، د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو د ځای اړوند عوامل، د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل، د درسي محتوا اړوند عوامل، د تحصیلي څانګې اړوند عوامل، سیاسي عوامل او په ښوونځي پورې اړوند عوامل دي. دغه پوښتنپاڼه د محتوا اعتبار مېتود

سره ترسره شوه او د تحصیلي افت مربوط پوښتنو کې د لازمو اصلاحاتو(سمونو، کمونو او زیاتونو) څخه وروسته د استادانو اصلاحي نظریات پکې اعمال او پوښتنپاڼه جوړه شوه. د پوښتنپاڼې اعتبار د کرونباخ الفا مېتود پر بنسټ (۰.۹۶۴) ترلاسه شوی دی.

دغه پوښتنپاڼه، چې(۷۷) پوښتنې او (۱۳) فکتورونه(مؤلفې) لري او د پوښتنو د ځوابونو لپاره پنځه انتخابي لیکرټ طیف(بشپړ مخالف یم، مخالف یم، نظر نه‌لرم، موافق یم او بشپړ موافق یم) کارول شوی دی. د ځوابونو د نمرو ورکړه له یو څخه تر پنځو (له بشپړ مخالف تر بشپړ موافق) پورې درجه بندي شوې، چې په لاندې ډول دي: په بشپړ ډول موافق یم (۵)، موافق یم (۴)، نظر نلرم (۳)، مخالف یم (۲)، په بشپړ ډول مخالف یم (۱).

په دې پوښتنپاڼه کې(له ۱۱ تر ۸) پوښتنې د محصلانو اړوند فردي عواملو پورې اړه لري، (له ۹ تر ۱۳) پوښتنې د استادانو اړوند فردي عواملو پورې اړه لري، (له ۱۴ تر ۱۸) پوښتنې د استادانو د تدریس مېتود اړوند عواملو پورې اړه لري، (له ۱۹ تر ۲۳) پوښتنې د استادانو د ارزونې مېتودونو اړوند عواملو پورې اړه لري، (له ۲۴ تر ۲۸) پوښتنې په اقتصادي عواملو پورې اړه لري، (له ۲۹ تر ۳۷) پوښتنې په کورنیو عواملو پورې اړه لري، (له ۳۸ تر ۴۳) پوښتنې په اقتصادي عواملو پورې اړه لري، له (له ۴۴ تر ۵۲) پوښتنې په ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عواملو پورې اړه لري، (له ۵۳ تر ۵٦) پوښتنې په سرچینو او امکاناتو عواملو پورې اړه لري، (له ۵۷ تر ۵۹) پوښتنې په درسي محتوا عواملو پورې اړه لري، (له ٦۰ تر ٦٦) پوښتنې په تحصیلي رشتې عواملو پوري اړه لري، (له ٦۷ تر ۷۰) پوښتنې په سیاسي عواملو پورې اړه لري او (له ۷۱ تر ۷۷) پوښتنې په ښوونځي اړوند عواملو پورې اړه لري. اطلاعات د (SPSS-26) په واسطه د (Repeated Measures Define Factor) او (One way ANOVA) ټېسټونو په کارولو سره تحلیل شوي دي.

## موندنې

د څېړنې موندنې په دوو برخو کې وړاندې راوړل شوې: لومړی برخه د ګډونوالو د ډموګرافیکي ځانګړتیاوو تحلیل دی، چې په لاندې جدول کې ښوودل شوی او دویمه برخه د څېړنې پوښتنو پر اساس تحلیلي او استنباطي موندنې دي، چې له جزیاتو او تفسیر سره وړاندې شوې دي.

***۱ جدول:*** *د ګډونوالو دموګرافیکي مشخصات*

| متغیر | کټګوري | شمېر | فیصدي | ټولټال |
|---|---|---|---|---|
| | ښوونه او روزنه | ۱۴۱ | ۴۵.۰٪ | |
| **پوهنځی** | کرنه | ۳۷ | ۱۱.۸٪ | ۳۱۳ |
| | جیولوجي او کانونه | ۱۳۱ | ۴۱.۹٪ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **تحصیلي کال (ټولګی)** | شرعیات | ۴ | ۱.۳٪ | ۳۱۳ |
| | اول | ۵۱ | ۱۶.۳٪ | |
| | دویم | ۷۶ | ۲۴.۳٪ | |
| | درېیم | ۹۱ | ۲۹.۱٪ | |
| | څلورم | ۹۵ | ۳۰.۴٪ | |
| **سن** | له ۱۸ تر ۲۱ کاله | ۱۶۵ | ۵۲.۷٪ | ۳۱۳ |
| | له ۲۲ تر ۲۴ کاله | ۱۲۳ | ۳۹.۳٪ | |
| | له ۲۵ تر ۲۷ کاله | ۱۸ | ۵.۸٪ | |
| | له ۲۸تر ۳۰ کاله | ۳ | ۱.۰٪ | |
| | له ۳۱ تر ۳۵ کاله | ۴ | ۱.۳٪ | |
| **استوګنه** | ښاري | ۹۳ | ۲۹.۷٪ | ۳۱۳ |
| | کلیوالي | ۲۲۰ | ۷۰.۳٪ | |
| **اقتصادي وضعیت** | ډېر ضعیف | ۷۹ | ۲۵.۲٪ | ۳۱۳ |
| | ضعیف | ۷۵ | ۲۴.۰٪ | |
| | متوسط | ۱۲۳ | ۳۹.۳٪ | |
| | قوي | ۳۰ | ۹.۶٪ | |
| | ډېر قوي | ٦ | ۱.۹٪ | |
| **د پلار د سواد کچه** | لوستی | ۱۵۹ | ۵۰.۸۰٪ | ۳۱۳ |
| | نالوستی | ۱۵۴ | ۴۹.۲۰٪ | |
| **له تحصیلي رشتې رضایت** | ډېر لږ | ۱۵ | ۴.۸٪ | ۳۱۳ |
| | لږ | ۲۴ | ۷.۷٪ | |
| | متوسط | ۸۳ | ۲٦.۵٪ | |
| | زیات | ۱۰۱ | ۳۲.۲٪ | |
| | ډېر زیات | ۹۰ | ۲۸.۸٪ | |
| **چانس** | چانس شوی | ۱۷۷ | ۵٦.۵٪ | ۳۱۳ |
| | چانس شوی نه‌دی | ۱۳٦ | ۴۳.۵٪ | |
| **څو چانسونه** | یو | ۹٦ | ۲۲.۰ | ۳۱۳ |
| | دوه | ٦۰ | ۱۹.۲٪ | |
| | دري | ۲۷ | ۸.٦٪ | |
| | څلور | ۱۲ | ۳.۸٪ | |
| | پنځه | ۹ | ۲.۹٪ | |
| | هېڅ چانس | ۱۳٦ | ۴۳.۵٪ | |

پورتنی (۱) شمېره جدول ښیي، چې د څېړنې اکثریت ګډونوال د ښوونې او روزنې او جیولوجي او کانونو پوهنځیو محصلان دي، په داسې حال کې چې د شرعیاتو پوهنځي محصلان تر ټولو لږ دي. د تحصیلي کال له نظره د څلورمو او درېیمو ټولګیو محصلانو چې اکثریت یې ځوانان (۱۸–۲۴) کلن دي، ګډون کړی دی. د استوګنې له مخې ډېری محصلان (۷۰٪) په کلیوالي سیمو پورې تعلق لري او د

اقتصادي وضعیت له نظره اکثریت محصلان متوسط یا ضعیف اقتصادي وضعیت لري. ډېری محصلان له خپلې تحصیلي رشتې رضایت لري. نږدې (۵۷٪) محصلان پخپله تحصیلي دوره کې چانس شوي دي.

**۲ جدول:** *د محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزناکو عواملو اولویت بندي*

| متغییر | شمېر | اوسط | سټنډرډ انحراف | F | P-value |
|---|---|---|---|---|---|
| ښوونیز چاپېریال او د اوسېدو د ځای عوامل | ۳۱۳ | ۳۴.۳۴۸۳ | ۷.۳۵۴۳۱ | | |
| کورني عوامل | ۳۱۳ | ۳۳.۵۵۴۹ | ۸.۰۴۳۲٦ | | |
| د محصلانو فردي عوامل | ۳۱۳ | ۳۰.۲۲۱۱ | ۵.۱۴۷۰۸ | | |
| د ښوونځي اړوند عوامل | ۳۱۳ | ۲۷.۴۱۹۲ | ٦.۴۴۹۰۴ | | |
| د تحصیلي ځانګې اړوند عوامل | ۳۱۳ | ۲٦.۴٦۲۵ | ٦.۷۷۳۷۴ | | |
| ټولنیز ـ فرهنګي عوامل | ۳۱۳ | ۲۳.۰۵۰۲ | ۵.۷۹۹٦۲ | | |
| اقتصادي عوامل | ۳۱۳ | ۱۹.۲۲٦۰ | ۴.۰۵۸۹۷ | ۴۲۱.۷۸۱ | ۰.۰۰۰۱ |
| د استادانو د ارزونې اړوند عوامل | ۳۱۳ | ۱۸.٦۳۴۲ | ۴.٦۳۸٦۳ | | |
| د استادانو د تدریس مېتود اړوند عوامل | ۳۱۳ | ۱۸.۴۵٦۲ | ۴.۳۵۷۰۵ | | |
| د استادانو اړوند فردي عوامل | ۳۱۳ | ۱۷.۵۵٦۵ | ۴.۸٦۹۹۴ | | |
| د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل | ۳۱۳ | ۱۵.۴۹۴۲ | ۳.٦۹۰۸۹ | | |
| سیاسيعومل | ۳۱۳ | ۱۵.۳۹۹۵ | ۳.۸۴۹٦۵ | | |
| د درسي محتوا اړوند عوامل | ۳۱۳ | ۱۱.۵٦۱۵ | ۲.۷۱۵۵۰ | | |

پورتنی(۲) جدول کې د تحلیل واریانس پایلې ښیي، چې تر ټولو لوړ اوسط د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل (۳۴.۳۴۸۳) او تر ټولو ټیټ اوسط د درسي محتوا اړوند عواملو(۱۱.۵٦۱۵) پورې مربوط دی او د تحصیلي افت عواملو ترمنځ معنی لرونکی توپیر موجود دی. پورته اوسطونو ته په کتو د محصلانو پر تحصیلي افت په ترتیب لاندې موارد اغېز لري: ۱ـ د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو د ځای عوامل؛ ۲ـ کورني عوامل؛ ۳ـ د محصلانو فردي عوامل؛ ۴ـ په ښوونځي پورې اړوند عوامل؛ ۵ـ د تحصیلي ځانګې اړوند عوامل؛ ٦ـ ټولنیز ـ فرهنګي عوامل؛ ۷ـ اقتصادي عوامل؛ ۸ـ د استادانو د ارزونې اړوند عوامل؛ ۹ـ د استادانو د تدریس مېتود اړوند عوامل؛ ۱۰ـ د استادانو اړوند فردي عوامل؛ ۱۱ـ د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل؛ ۱۲ـ سیاسي عوامل؛ ۱۳ـ د درسي محتوا اړوند عوامل. د یادولو وړ ده، چې تر ټولو ډېر د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل او ترټولو لږ د درسي محتوا اړوند عوامل د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

**۳ جدول:** *دټولګي پر بنسټ د محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو علواملو د اوسط پرتلنه*

| تحصیلي کال(ټولګی) | شمېر | اوسط | معیاري انحراف |
|---|---|---|---|
| لومړي | ۵۱ | ۲۹۵.۷۳۹۸ | ۴۳.۹۹۳۹۲ |
| دویم | ۷٦ | ۲۹۰.۰۹۳۵ | ۴۵.۲۷۹۰۱ |
| درېیم | ۹۱ | ۲۸۲.۹۰۵۰ | ۵۲.۴۰٦۰۷ |
| څلورم | ۹۵ | ۲۹۸.۲۰۱۰ | ۴۸.۰۱۱٦۳ |

په پورتني (۳) جدول کې څرګندېږي، چې لوګر پوهنتون د محصلانو تحصیلي کار یا ټولګیو پر بنسټ تحصیلي افت په ترتیب عبارت دی له: ۱ـ څلورم ټولګي؛ ۲ـ لومړي ټولګي؛ ۳ـ دویم ټولګي؛ ۴ـ درېیم ټولګي.

**۴ جدول:** *د تحصیلي رشتې پر بنسټ د تحصیلي افت پرتلنه*

| متغییر | اوسط | معیاري انحراف |
|---|---|---|
| د ښوونې او روزنې پوهنځی | ۲۹٦.۳۰۰۸ | ۵۰.۳۸۴٦۸ |
| د کرنې پوهنځی | ۳۰۳.۹۷۴۳ | ۳٦.۷۲۴۲۷ |
| د جیولوجي او کانونو پوهنځی | ۲۸۲.۵۲۲۲ | ۴۸.۱۳۰۹٦ |
| د شرعیاتو پوهنځی | ۲۹۱.۸۵۴۴ | ۲۴.۲۷٦۲۰ |

په پورتني (۴) جدول کې څرګندېږي، چې د تحصیلي رشتې پر بنسټ لوګر پوهنتون د محصلانو د تحصیلي افت په کرنه پوهنځي کې په لوړه او لومړۍ کچه، په ښوونه او روزنه پوهنځي کې په دویمه کچه، په شرعیاتو پوهنځي کې په درېیمه کچه او په جیولوجي او کانونو پوهنځي کې په څلورمه او ټیټه کچه کې قرار لري.

**۵ جدول:** *د والدینو د سواد پر بنسټ د محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو عواملو د اوسط پرتلنه*

| متغییر | سواد | شمېر | اوسط | معیاري انحراف | T | آزادۍ درجه Df | P-value(Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| والدینو سواد | لوستي | ۱۵۹ | ۲۸۸.۰۰۳۴ | ۵۰.۰۰٦۲۱ | -۱.۲٦۱ | ۳۱۱ | ۰.۴۸۱ |
| | نالوستي | ۱۵۴ | ۲۹۴.۸۷۵۰ | ۴٦.۲۷٦٦۰ | | | |

د پورتني (۵) جدول پر بنسټ ویلای شو، چې د لوستو والدینو اوسط (۲۸۸.۰۰۳۴) له (۵۰.۰۰٦۲۱) معیاري انحراف سره او د نالوستو والدینو اوسط(۲۹۴.۸۷۵۰) له(۴٦.۲۷٦٦۰) معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د(۳۱۱) ازادۍ درجه کې(۰.۴۸۱) معنا لرونکی په لاس نه دی راغلی. جدول ښیي، چې نالوستي والدین تر لوستو والدینو ډېر د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

**مناقشه**

د څېړنې پايلې څرګندوي، چې د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصيلي افت ګڼ عوامل اغېز لري، چې تر ټولو ډېر د ښوونيز چاپېريال او اوسېدو ځای اړوند عوامل او تر ټولو لږ د درسي محتوا اړوند عوامل د محصلانو پر تحصيلي افت اغېز لري. د تحصيلي کار له مخې په لوګر پوهنتون کې تحصيلي افت په څلورمو ټولګيو کې تر ټولو ډېر او په لومړۍ درجه، په لومړيو ټولګيو کې په دويمه درجه، په دويمو ټولګيو کې په درېيمه درجه او په درېيمو ټولګيو کې په څلورمه درجه او تر ټولو لږ دی. د تحصيلي رشتې له مخې لوګر پوهنتون د محصلانو تحصيلي افت، په کرنه پوهنځي کې په لوړه او لومړۍ کچه دی، په ښوونه او روزنه پوهنځي کې په دويمه درجه، په شرعياتو پوهنځي کې په درېيمه کچه دی او په جيولوجي او کانونو پوهنځي کې په څلورمه او ټيټه کچه دی. د والدينو سواد ته په کتو نالوستي والدين تر لوستي والدينو ډېر د محصلانو پر تحصيلي افت اغېز لري.

پر دې بنسټ د څېړنې د لومړۍ پوښتنې پايلې دا دي، چې د لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصيلي افت په ترتيب لاندې عوامل اغېز لري: ښوونيز چاپېريال او د اوسېدو ځای، کورنۍ، فردي، د ښوونځيو ضعف، تحصيلي څانګه ټولنيز ـ فرهنګي، اقتصادي، د استادانو د ارزونې مېتود، د استادانو د تدريس مېتود، د استادانو مشخصات، سرچينې او امکانات سياست او درسي محتوا، چې ترټولو ډېر ښوونيز چاپېريال او د اوسېدو ځای او تر ټولو لږ درسي محتوا د محصلانو پر تحصيلي افت اغېز لري. د دې څېړنې څخه ترلاسه شوې پايلې د خپلواک او نجيب (۱۴۰۳)، بندبني او همکاران(۱۳۹۵) د څېړنو له پايلو سره توپير لري؛ خو د ابراهيم زاده او همکاران(۱۳۹۴)، مقيمي او همکاران (۱۳۸۹)، کمالي او رضايي (۱۳۹۸)، محمدي او همکاران (۱۳۹۹)، شکرکن او همکاران (۱۳۹۷) راستيان او همکاران(۱۳۹۳) د څېړنو له پايلو سره ورته‌والی لري.

پردې بنسټ د څېړنې د دويمې پوښتنې پايلې دا دي، چې د تحصيلي کال له مخې لوګر پوهنتون د محصلانو تحصيلي افت توپير لري. په څلورمو ټولګيو کې په لومړۍ او لوړه کچه، په لومړيو ټولګيو کې په دويمه کچه، په دويمو ټولګيو کې په درېيمه کچه او په درېيمو ټولګيو کې په څلورمه او ټيټه کچه دی. د دې څېړنې څخه ترلاسه شوې پايلې د محمدي او همکاران (۱۳۹۹) د څېړنې له پايلو سره توپير لري؛ خو د خپلواک او نجيب (۱۳۹۳) د څېړنې له پايلو سره ورته‌والی لري.

د څېړنې د درېيمې پوښتنې پايلې دا دي، چې د تحصيلي رشتې له مخې د لوګر پوهنتون د محصلانو تحصيلي افت يو له بل سره توپير لري. په کرنه پوهنځي کې په لوړه او لومړۍ کچه، په ښوونه او روزنه پوهنځي کې په دويمه کچه، په شرعياتو پوهنځي کې په درېيمه کچه او په جيولوجي او کانونو پوهنځي

کې په څلورمه او ټيټه کچه دی. د دې څېړنې څخه ترلاسه شوې پايلې د پارسي او همکارانو (۱۳۹۷)، د خپلواک او نجيب (۱۴۰۳) د څېړنو له پايلو سره ورته لري.

پر دې بنسټ د څېړنې د څلورمې پوښتنې پايلې دا دي، چې د والدينو سواد ته په کتو، نالوستي والدين تر لوستو والدينو ډېر د خپلو اولادونو او يا محصلانو پر تحصيلي افت ډېر اغېز لري. د دې څېړنې څخه ترلاسه شوې پايلې د افشاري (۱۳۹۵)، هافمن (۱۹۸۹)، يونسکو مشاوران (۱۳۶۹)، مجيدي (۱۳۷۵)، کمالي او رضايي (۱۳۹۸)، پردانجاني او همکاران (۱۳۹۰)، مقدم او کمالي‌فر (۱۳۹۱) د څېړنو له پايلو سره ورته‌والی لري؛ خو د پارسي او همکارانو (۱۳۹۷) د څېړنې له پايلو سره توپير لري.

**پايله**

د څېړنې پايلې څرګندوي، چې د لوګر پوهنتون د محصلانو تحصيلي افت د څو اړخيزو عواملو پايله ده، چې تر ټولو مهم يې د ښوونيز چاپېريال او د اوسېدو د ځای شرايط دي. د استوګنځي ستونزې د پوهنتون محدودې اسانتياوې او د زده‌کړې فزيکي چاپېريال نامناسب والی د محصلانو پر تحصيلي پرمختګ او کيفيت ژور اغېز کړی دی. ورسره کورني عوامل لکه د والدينو سواد، اقتصادي وضعيت او د کورنۍ ملاتړ، د محصلانو د زده‌کړې پر دوام او بريا کې اساسي رول لوبوي. همدارنګه د محصلانو فردي ځانګړنې: لکه؛ زده‌کړې ته ليوالتيا، د ذهني فشار مديريت او د زده‌کړيزو عادتونو شتون يا نشتون د محصلانو پر تحصيلي افت کې خپل رول لرلی دی. د څېړنې موندنو وښووده، چې د تحصيلي کال، ځانګې، د والدينو سواد او اقتصادي وضعيت له مخې د محصلانو تحصيلي افت کې څرګند توپير شته. د څلورم کال محصلان تر ټولو لوړ تحصيلي افت لري؛ په داسې حال کې چې د درېيم کال محصلان تر ټولو لږ له دې ستونزې سره مخ دي. د کرنې پوهنځي محصلان تر ټولو زيات او د جيولوجي او کانونو پوهنځي محصلان تر ټولو لږ تحصيلي افت لري. د نالوستو والدينو اولادونه د لوستو والدينو په پرتله ډېر د تحصيلي افت ښکار دي او د اقتصادي ستونزو لرونکي محصلان تر ټولو زيات زيان ويني. د څېړنې موندنو څخه دا پايله اخيستلای شو، چې د محصلانو په تحصيلي افت کې مختلف عوامل دخيل دي او په ياد تحصيلي بنسټ کې د دې ستونزې د کمولو او له منځه وړلو لپاره بايد د ښوونيز چاپېريال ښه‌والي، د استوګنځايونو معياري کولو، د محصلانو لپاره د رواني ملاتړ او زده‌کړيزو مهارتونو برابرولو ته کلکه پاملرنه وشي.

**وړانديزونه**

د څېړنې موندنو پر بنسټ لاندې وړانديزونه وړاندې کېږي:

۱. په درسي ودانیو، لیلیو، درسي ټولګیو، لابراتوارونو او مطالعه‌ځایونو کې دې د محصلانو لپاره آرام او مجهز فزیکي درسي چاپېریال برابر شي؛ تر څو د زده‌کړو کیفیت لوړ شي او د لیلیي ظرفیت، کیفیت، پاکوالی او تفریحي اسانتیاوې دې زیاتې شي؛ تر څو محصلان وکولای شي په ارام ذهن سره زده‌کړې وکړي.

۲. د محصلانو د کورنۍ د ونډې لوړولو لپاره دې د والدینو د پوهاوي پروګرامونه جوړ شي او د لوستو والدینو تجربې دې له نالوستو والدینو سره شریکې شي؛ تر څو د خپلو اولادونو زده‌کړو ته ارزښت ورکړي.

۳. محصلانو ته دې د رواني، تحصیلي او ... مشورې خدمات فعال او ورکړل شي او د زده‌کړې/مطالعې مهارتونو، وخت مدیریت، ځان باورۍ، ازموینو ته چمتووالي او د فشار سره د مقابلې لارو چارو په اړه دې سیمینارونه جوړ او پوهه دې ورکړل شي.

٤. هغو پوهنځیو او څانګو ته دې جدي پاملرنه وشي، چې د تحصیلي افت کچه پکې لوړه ده او څانګې اصلاحي تګلارې دې ورته جوړې شي. هرې څانګې ته دې د اړتیا او ظرفیت له مخې امکانات، استادان او سرچینې برابرې شي.

۵. استادان دې وهڅول شي چې فعال، تعاملي او محصل محور تدریس مېتودوونه وکاروي او له نوې ټکنالوژۍ ګټه واخلي او استادانو ته دې دوامداره مسلکي او پیداګوژیکي روزنه ورکړل شي.

٦. محصلانو ته دې د کتابونو، کمپیوټرونو، لابراتوارونو، اینټرنېټ، او کتابتونونو آسان لاسرسی زیات شي او د درسي توکو کمښت دې تشخیص او جبران شي.

**مننه او درناوی**

له ټولو هغو کسانو څخه مننه کوو، چې په دې څېړنه کې یې مرسته کړې.

په څېړنه(مقاله) کې د لیکوالانو ونډه

**د ګټو تضاد**

د ګټو تضاد شتون نه‌لري.

## اخځلیکونو

ابراهیم‌زاده، ف؛ ناصریان، م. ق؛ و مردانی، م. (۱۳۹۴). بروز افت تحصیلي و عوامل مرتبط با آن در دانشگاه علوم پزشکی لرستان. *فصلنامه علمی ـ تحقیقی دانشگاه علوم پزشکی لرستان*، یافته، ۱۷(۴)، ص ۱۴ – ۲۴. لینک

آشتیاني، س.ج؛ شمسی، م؛ و محمدبیگی، ا.ا. (۱۳۸۸). فراواني افت تحصیلي و برخي از عوامل مؤثر بر آن از دیدگاه محصلان دانشگاه علوم پزشكي اراك. مجله علمي تحقيقي دانشگاه علوم پزشكي اراك، سال ۱۲(۴)، ص ۲۴ – ۳۳. لینک

افشار، م. (۱۳۹۵). بررسی علل افت تحصیلي و تأثیر سطح سواد والدین بر پیشرفت تحصیلي دانش آموزان. کنفرانس بین المللی تحقیق در مهندسی، علوم و تکنالوژی/ باتومی –گرجستان. لینک

امیني‌فر، م. (۱۳٦۵). «افت تحصيلي يا اتلاف در آموزش و پرورش»، فصلنامه تعليم و تربيت، پاييز و زمستان، ۷(۷). لینک

بازرگان، ز. (۱۳۷۹)، «نگاهي ديگر به مسأله افت تحصيلي و شيوه‌هاي موثر مقابله با آن در برخي از كشورهاي پيشرفته صنعتي»، نشريه ماهانه آموزشي - تربيتي - پيوند. تهران: انتشارات انجمن اولياء و مربيان، (۲۵۳). لینک

پارسی، بهزاد؛ فرزانه متولی، ح؛ شفا وردی، م.م؛ اسلامی‌فر؛ م؛ و پریمانی، ح. (۱۳۹۷). بررسی میزان افت تحصیلي و عوامل مؤثر بر آن در دانشجویان مقاطع مختلف دانشگاه علوم پزشکی مازندران. نشریه راهبردهای آموزش در علوم پزشکی، دوره ۱۱ (۳). ص ۱۴۳ – ۱۴۸. لینک

پردنجانی، س.ر؛ حشمتی، ه؛ و مقدم، ز. (۱۳۹۰). بررسی فراوانی و عوامل مؤثر در افت تحصیلي دانشجویان ساکن خوابگاه دانشکده‌های پیراپزشکی و بهداشت دانشگاه علوم پزشکی گلستان. فصلنامه علمی دانشگاه علوم پزشکی تربت‌حیدریه ،دوره‌ی ۲ (۱)، ص ۱٦ – ۲۸. لینک

پور بند بنی، م.ا ؛ نادری شاد، ش؛ آبکنار، ف.ك؛ و چابك، ب.غ. (۱۳۹٦). بررسي افت تحصيلي و برخي عوامل مرتبط با آن از ديدگاه محصلان دانشگاه علوم پزشكي گيلان د شهر گيلان. تحقيق در آموزش علوم پزشكي، سال۹ (۳)، ص ۹۰ – ۹٦. لینک

جعفری، ع؛ و عندلیبیان، ا ه. (۱۳۹۷). نقش بازی‌های رایانه‌ای در افت تحصیلي دانش آموزان متوسطه شهر تهران. نشریه علمی- تحقیقی فناوری آموزش، بهار ۱۳۹۷، جلد ۱۲(۳)، ص ۲۱۱ – ۲۲۰.

https://doi.org/10.22061/jte.2018.3041.1774

حسام، م؛ و ثناگو، ا . (۱۳۹۱). بررسی رابطه افت تحصیلي با رضایت تحصیلي و برخی عوامل در دانشجویان دانشکده علوم پزشکی گلستان. مجله توسعه تحقیق در پرستاري و مامایی، دوره ۹ (۲)، ص ۹۰- ۹٦. لینک

خاكي، غ. (۱۳۸۲). روش تحقيق با رويكردي به پايان‌نامه نويسي. تهران: انتشارات بازتاب.

خپلواک، م.ط؛ او نجیب، ن. (۱۴۰۳). لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې د اغېزناکو لاملونو څېړل. عینک علمي ـ څېړنیزه مجله، لومړی کال(۲)، ص ۱۷۸ – ۱۹۸. لینک

راستیان، م. ل ؛ حسن نیا، س؛ مظفری، ش؛ و صادقی، ف. (۱۳۹۳). راهکارهای مقابله با افت تحصیلي. فصلنامه مرکز مطالعات و توسعه آموزش دانشگاه علوم پزشکی شهید صدوقی یزد. ویژه‌نامه پانزدهمین همایش آموزش علوم پزشکی، دوره ۹ (۱۳) ، ص ۴۷۹ – ۴۸۷. لینک

سروری، خ.ا. (۱۳۹۵). روش‌های تحقیق در روان‌شناسی و علوم تربیتی. کابل: انتشارات سعید.

سیمائی، ح. (۱۳۹۴). بررسی رابطه سلامت روانی موجود در مدارس با افت تحصیلی دانش آموزان مقطع ابتدایی ارومیه. کنفرانس بین المللی تحقیق در علوم و تکنولوژی. لینک

شکرکن، ح؛ پولادی، م.ع؛ و حقیقی، ج. (۱۳۹۷). بررسی عوامل مهم افت تحصیلي در دبیرستان‌های پسرانه شهرستان اهواز. مجله علوم تربیتی و روانشناسی، دانشگاه شهید چمران اهواز، سال ۷ (۳ و ۴)، ص ۱۰۳ – ۱۱۴. لینک

شيخي، محمد تقي (۱۳۷۳)، جامعه شناسي جهان سوم، تهران: انتشارات اشراقي.

صفوي، ا.ا. (۱۳۶۵)، «افت تحصيلي در ايالات متحده آمریکا و علل آن». تهران: فصلنامه تعليم و تربيت، سال ۲( ۷ و ۸). لینک

طاهری، ع؛ و فیاضی، م. (۱۳۹۰). بررسی علل افت انگیزش تحصیلي از دیدگاه دانش آموزان دوره پیش‌دانشگاهی با توجه به جنسیت و زمینه‌های خانوادگی آن‌ها. نشریه علمی تحقیقی فناوری آموزش، سال ۵، جلد۵(۴)، ۲۸۷ – ۲۹۸. لینک

غیبی، ش. ص؛ محمود لو، ر؛ موسومی واعظی، س. ج؛ یکتا، زهرا؛ علی، رضا پور و کفیلی، مهناز. (۱۳۸۹). بررسی میزان افت تحصیلي و برخي عوامل زمینه‌ساز آن در محصلان پزشکي دانشگاه علوم پزشکي ارومیه. مجله مرکز مطالعات و توسعه آموزش پزشکی، دوره ۷(۲)، ص ۱۴۶-۱۴۱. لینک

فتی، ل؛ آذری، ش؛ بادران، ح؛ و اطلسی، ر. (۱۳۹۳). مرور سیستماتیک بررسی علل افت تحصیلي محصلان پزشکی. گام‌های توسعه در آموزش پزشکی. مجله مرکز مطالعات و توسعه آموزش پزشکي، دوره ۱۰ (۲)، ص ۳۱- ۳۸. لینک

قاسمی، ز؛ محبی فر، ر؛ سمیعی‌راد، ف؛ نظری شادکام، ف؛ و قهرمانی، ع. (۱۳۳). بررسی میزان افت تحصیلي دانشجویان دانشگاه علوم پزشکی قزوین در سال تحصیلي ۹۲- ۱۳۹۳ و شناسایی مهم‌ترین عوامل فرآیندی موثر بر آن. فصلنامه مرکز مطالعات و توسعه آموزش دانشگاه علوم پزشکی شهید، صدوقی یزد( ویژه‌نامه پانزدهمین همایش علوم پزشکی)، دوره ۹ (۱۳ )، ص ۲۱۷ – ۲۲۶. لینک

کمالي، ف؛ و رضایي، پ. (۱۳۹۸). افت تحصیلي در دانشجویان پزشکی به‌عنوان عامل مؤثر در آینده سلامت جامعه را در دانشکده پزشکی بندرعباس. مجله طب پیشگیری، سال ۷ (۱)، ص ۷۳ – ۸۰. لینک

گلشن فومني، م.ر. (۱۳۸۲)، جامعه شناسي آموزش و پرورش، تهران: انتشارات دیدآور.

محمدی ب؛ هراد پور؛ کمی؛ گ؛ و رحیمی پ. س. (۱۳۹۹). بررسی افت تحصیلي دانشجویان رشته بهداشت دانشگاه علوم پزشکی سمنان. مجله راهبردهای توسعه در آموزش پزشکی، دوره ۷ (۱)، ۱۳۹۹، ص ۸۷-۹۹. لینک

محمدي، ب. پ؛ كمي، گ؛ او رحيمى پ. س. (۱۳۹۹). افت تحصيلى دانشجويان رشته بهداشت دانشگاه علوم پزشکی سمنان. مجله راهبردي توسعه در آموزش پزشکی، دوره ۷ (۱)، ص ۷۸-۹۱. لینک

معصومی، م؛ حسين زاده لطفی، ف؛ شاهورانی، ا؛ و رشيديان، ز. (۱۳۸٦). بررسی علل افت تحصيلي دانش آموزان دوره متوسطه شهر خرم‌آباد در درس رياضی. مجله رياضيات کاربری واحد لايجان ، سال ۴ (۱۴)، ص ۷۵ – ۸۸. لینک

معيري، م.ط. (۱۳۷۰)، مسائل آموزش و پرورش، تهران: انتشارات اميركبير.

مقدم، ع. ن. و کمالی فر، ز. (۱۳۹۱). بررسی شناسایی عوامل مهم افت تحصيلي دانش آموزان پسر شهر آمل در درس شيمی يک. هشتمين سمينار آموزش شيمی ايران، ٦ و۷، ۱۳۹۲ ، دانشکده شيمی، دانشگاه سمنان. لینک

مقيمی، س. م؛ خنيفر، ح؛ زروندی، م؛ جوکار، ا؛ بيان معمار، س.ا؛ و فرجی ارمکی، ا. مطالعه و بررسي رابطه بين عوامل آموزشي و افت تحصيلي در ميان دانش آموزان پسر آموزشگاه‌های راهنمايي. دو فصلنامه مديريت و برنامه‌ريزی در نظام‌های آموزشي، دوره ۳(۴)، ص ۱۴۴ – ۱۶۰. لینک

منادي، م. (۱۳۷۲)، «تفسير شكستهاي تحصيلي از ديدگاه جامعه شناسي»، فصلنامه تعليم و تربيت، پاييز و زمستان سال ۹، (۳ و ۴). لینک

مهران، گ. (۱۳۷۵)، «بررسي علل ترك تحصيل دختران در مقطع آموزش ابتدايي در منطقه خاور ميانه و شمال آفريقا و بويژه درايران»، فصلنامه تعليم و تربيت، تابستان سال ۱۲(۲). لینک

نعيمی، ا. (۱۳۹٦). بررسی پيش‌بينی افت تحصيلي بر اساس ميزان استفاده از شبکه‌های اجتماعی مجازی و احساس ارزش شخصی. تحقيقات مشاوره، جلد ۱٦ (٦۲)، ص ۱۸۹ – ۲۰٦. لینک

نفيسي، ع. (۱۳۷۱)، «خسارتهاي ناشي از شكست تحصيلي و وضعيت آن در سال ۱۳۶۹»، فصلنامه تعليم و تربيت، پاييز سال ۸ (۳). لینک